د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه 8 ذی‌القعده، ۱۴۴۵هـ | 16/05/2024م | گڼه: ح.ت.افغ 24/۱۴۴۵

## مطبوعاتي اعلامیه

## ایران له افغانستان سره د خپلې پولې د بندولو په پلان سره یو ځل بیا خپله خاینانه او نا اسلامي څېره وښوده

د ایران دولت په دې وروستیو کې له افغانستان سره د خپلې پولې بندولو او پر پوله د موانعو نصبولو پرېکړه کړې. د دغه پلان موخه ایران ته د افغانانو د ننوتو مخنیوی ویل شوی. په دغه پلان کې د څلور متره دیوال، اغزن سیم او موانعو نصبول شاملېږي چې د درېیو کالو په اوږدو کې به د درې ملیارده ډالرو په لګښت پلی شي. له بل لوري د ایران د کورنیو چارو وزیر په تېر یوه کال کې له ایران څخه د یو ملیون او ۳۰۰ زرو کډوالو، چې ډېری یې افغانان دي، د ایستلو خبر ورکړی.

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د افغانستان او ایران او نورو اسلامي خاورو ترمنځ د پولو بندول غندي او دا یو تفرقه اچوونکی پلان او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د امت بېلولو سبب ګڼي؛ ایران په خپل دغه پلان یو ځل بیا خپله خاینانه او نا اسلامي څېره وښوده.

اصل دا دی چې ټول مسلمانان باید تر واحد اسلامي حاکمیت لاندې وي او پر هیوادونو او ببلو پولو لرونکو کوچنیو رژیمونو د اسلامي خاورو ویشل د شریعت خلاف کړنه ده. له بده مرغه د خلافت تر سقوط وروسته اسلامي نړۍ د دولت-ملت نظم غېږې ته ولوېده او د استعماري پولو په ترسیم سره په کوچنیو ټوټو وویشل شوه. د ایران او افغانستان ترمنځ پولې لویه برخه انګریزي جنرال مک‌لین او مک‌ماهون ترسیم کړې دي. د استعمار لخوا د ملي دولتونو په جوړېدو سره د امت، اسلامي اخوت او ورورولۍ مفاهیم تت او کمزوري شول او دولتونه د سیکولر او ملي ګټو مفکورو پر بنسټ رامنځته شول چې د ایران ظالم دولت یې هم یوه برخه ده.

په حقیقت کې ټولې اسلامي خاورې له اندونزیا تر مراکشه، د مسلمانانو دي او هر مسلمان کولی شي د دغو خاورو په هره برخه کې یې چې زړه وي ژوند او کار وکړي. د دغه شرعي حق پر بنسټ؛ بلې اسلامي خاورې ته د یوه مسلمان د سفر لپاره پاسپورټ، ویزې، د اقامت اجازې او د کار جواز ته اړتیا نشته. د ایران دولت نه یوازې دا چې دغه شرعي اصل ته ژمن نه دی، بلکې له افغان کډوالو سره په ظالمانه چلند، په ایران کې د دغو کډوالو له شتون څخه په خپل بهرني سیاست کې د اقتصادي او سیاسي وسیلې په توګه ګټه اخلي.

نو د افغانستان او سیمې حکامو ته تذکر ورکوو چې د ایران دولت د دغه تفرقه اچوونکي پلان د پلي کېدو مخه ونیسي او پرې نه ږدي چې مسلمانان د ډیورنډ پشان سره بېل شي. په داسې حال کې چې د غزې له دردمنوونکو پېښو وروسته د مسلمانانو عام فکر د فکري، سیاسي او جغرافیایي وحدت پر لور روان دی او ټول امت تر یوه واحد نظام لاندې ژوند کول غواړي، د ایران اخوندي رژیم د شرعي حکم او د مسلمانانو د عام نظر او رایې خلاف د تفرقه اچوونکو پلانونو پلي کولو په هڅه کې دی. په حقیقت کې اسلام ملي پولې، د مسلمانانو ترمنځ پوله، دیوال او موانع نصبول په شدت ردوي او دا ټول د معاصرو بتانو حیثیت لري. په حقیقت کې د مسلمانانو «الولاء» باید د اسلام، مومنینو او خلافت لپاره او «البراء» یې باید د کفارو او نشنلستي افکارو پر وړاندې وي؛ خو له بده مرغه اوسني دولتونه دا مفهوم برعکس پلی کوي.

**وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيعاً وَ لا تَفَرَّقُوا...** [آل‌عمران: ۱۰۳]

د حزب التحریر ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمېل پته
info@hizb-afghanistan.org

د حزب التحریر رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info

**ژباړه:** او ټول د الله پر رسۍ منګولې ولګوئ او تفرقه مه کوئ.

**د حزب التحرير – ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**